# ماشومانو مقدس کتاب
## وړاندې کونکے

# د عیسی مسیح معجزې



لیکونکے: Edward Hughes

خیال: Byron Unger; Lazarus
Alastair Paterson

خوښونکے: E. Frischbutter; Sarah S.

ترجمه کونکے: Aim4Faith Ministries

مددگار: Bible for Children
www.M1914.org

©2024 Bible for Children, Inc.
تاسو دا قیصئ نقل کولے شئ یا چاپ کولے شئ خو دا خرڅولے نۀ شئ.



عیسی مسیح ډېر معجزې وکړې. معجزې د دې ښکاره کولو نښې وې چې عیسی مسیح واقعی د خدائ پاک زوئ دے. د وادۀ په دعوت کښې وړومبئ معجزه وشوه. یوه مسئله راپېښه شوه. هلته د ټولو د پاره ډېر مے نۀ وو.




مریم، د عیسی مسیح مور، هغهٔ ته د دې مسئلې په باره
کښې وائی، هغې نوکرانو ته ووئیل چې عیسی مسیح څهٔ
هم حکم درکوی نو هغه وکړئ.
3


عیسی مسیح ووئیل، په چاټو کښې اوبه
واچوئ او ډکې یې کړئ. هغوئ به تپوس
کړے وی چې اوبه؟ آو اوبه، لکه څنګه
چې عیسی مسیح ووئیل.
4


بیا عیسی مسیح نوکر ته د
یو لوئ لوښی د پاره ووئیل،
او هغه سړی ته څوک د دې
هر څهٔ ذمه وار وو، ووئیل
چې وګوره نو هغه اوبه
مے وو. ښهٔ مے!
بهترین مے!
5


نوکران حیران شول. عیسی
مسیح اوبه په میو باندې بدلې
کړلې. صرف خدائ پاک
داسې معجزه کولے شی.
6


عیسی مسیح داسې نورې معجزې هم وکړې.
یو ماښام، هغه او د هغهٔ شاګرد د پطرس کور
ته لاړل. د پطرس خواښې ډیره زیات تبه د
هغې په وجه باندې ناجوړه وه.
7


عیسی مسیح هغه ناجوړه ښځې له لاس وروړلو. او هم په
هغه ساعت باندې هغه دوباره روغه جوړه شوه. او هغه
پاڅېدله او د عیسی مسیح او د هغهٔ د شاګردانو خدمت یې
وکړو.
8


داسې ښکارېدل چې پوره ښار په هغه ماښام د هغوئ په
دروازه کښې راجمع شول. ناجوړه خلق به راتلل. ړاندهٔ،
ګونګيان، ګاڼهٔ، شل ګوډ،
تر دې چې په چا کښې بد
روحونه وو، نو هغوئ به
يې هم عيسی مسيح له
راوستل. آيا هغه د دې
دومره خلقو مدد
کولے شی؟
9


عيسی مسيح، د خدائ پاک زوئ، هغه مدد کولے شی. او
عيسی مسيح مدد وکړلو. او څوک هم چې هغهٔ خواته
راغلی دی نو هغوئ شفا موندلې ده. کوم خلق چې ټول شل
ګوډ وو اوس هغوئ ګرځېدے شی، منډې وهلے شی.
10


نور خلق هم هغهٔ
له راغلل چې د
جزام په وجه باندې
بد رنګه وو.
11


خو چې کله عيسی
مسيح هغوئ له شفا
ورکړه نو هغوئ
تندروست او پاک
صفا شول.
12


سړی او ښځې چې د بد روحونو په وجه په مصيبت کښې
وو د عيسی مسيح مخې ته ولاړ وو. هغه بد روحونو ته
د هغوئ د پرېښودلو
حکم ورکوی. او
څنګه چې بدو
روحونو د هغهٔ
اطاعت وکړو،
نو هغه وېرېدونکی
او خفه خلق ښهٔ په
امن او سکون
کښې شول.
13


د ګڼې په وجه باندې ځلورو کسانو غوښتل چې هغوئ خپل
ملګرے عيسی مسيح خواته راولی هغوئ کوشش وکړه خو
نزدې نهٔ شول. هغوئ څهٔ کولے شی؟
14



ناجوړه سړے يې د کور چت ته راوړلو.
هغه څلورو وفادارو ملګرو يې چهت
سورے کړو او هغه يې په هغه
سورے کښې راښکته کړو.
اوس هغه عيسی
مسيح ته نزدې
وو.

15



عيسی مسيح وليدل چې
هغوئ څلور واړه
ملګری ايمان ساتی. هغۀ
هغه ناجوړه سړی ته
ووئيل، ستا ګناهونه
معاف شول، خپل بستره
دې واخله او لاړ شه.
سړے ودرېدلو او ټيک
شو. عيسی مسيح هغۀ
شفا ورکړه.

16



هم په دغه موقع عيسی مسيح خپلو شاګردانو سره په
کشتئ کښې وو. نو په سمندر کښې يو
ويروونکے طوفان راغلو. عيسی
مسيح اودۀ وو. ويرېدونکو
شاګردانو هغه راويښ کړو.
اے مالکه، مونږ بچ کړه.
هغوئ چغې کړې چې
مونږ ډوبيګو!

17



عيسی مسيح د سمندر اوبه ورټلې او سمدستی، د سمندر
طوفان ودرېدلو. د هغۀ شاګردانو ووئيل چې دا له څنګه
سړے دے، تردې چې اوبه او هوا هم د هغۀ حکم منی.
هغوئ يقين وکړو چې عيسی مسيح د
خدائ پاک زوئ دے، خو هغوئ
به د عيسی مسيح نورې
ډېرې لوئې لوئی معجزې
ووينی کله چې هغه خلقو
ته د خدائ پاک زېرے اوروئ،
او د خدائ پاک خدمت کوی.

18

د عيسی مسيح معجزې

دَ خدائ په کلام په مقدس کتاب کښې دا قيصئ

شته دے

متی ۸ – ۹، مرقوس ۱- ۲، مرقس ٤،
لوقا ٤، لوقا ۸، يوحنا ۲-

"ستا دَ خبرو تشريح نُور بخښی ."
زبور 130:119

19



ختم شو

40 60

20

دا قیصئ مونږ ته زمونږ د حیرانونکی خدائ په باره کښې ښودنه کوې چې چا مونږ پیدا کړو او چې څوک غواړی چې هغه مونږ وپیژنو.

خدائ پوهیږی چې مونږ ډیر علط کارونه کړی دی، چې هغې ته هغه ګنا وایې. د ګنا مزدوی مرګ دے خو خدائ مونږ سره ډیره مینه کوې نو ځکه هغۀ خپل یک یو زوئ راولیږلو چې هغه زمونږ د ګناهونو د خاطره سزه وزغمې او په سولۍ خپل ځان قربان کړې.او بیا عیسی د مړو نه ژوندے شو او آسمان ته لاړو. کۀ تۀ په عیسی باندې ایمان راوړې او د هغۀ نه د خپلو ګناهونو بخښنه غواړې نو هغه به تا ته بخښنه وکړې. هغه تا خواته راځی او ستاسو دننه به استوګنه کوی او تۀ به هغه سره د همیشه د پاره ژوندے اوسیږی.

کۀ تۀ په دې ایمان لرې چې دا رښتیا دی نو خدائ ته ووایه.خوږه عیسی زۀ ایمان لرم چې هم تۀ خدائ یې. تا زما د خاطره پیدا شوې او زما د خاطره مړ شوې او اوس تۀ د تل د پاره ژوندے یې. زما په ژوند کښې راشه او زما ګناهونه وبخښه، چې زۀ هم د نن نه ژوندون ومومم او د همیشه د پاره تاسره یم. زما مدد وکړه چې زۀ ستا تابعداری وکړم او ستا زوئ یا لور جوړه شم. آمین مقدس کتاب ولولئ او خدائ سره روزانه خبرې وکړئ، یوحنا۳:۱۲